**د پوښتنې ځواب**

**د جاپان نوې دفاعي ستراتېژي**

(ژباړه)

**پوښتنه:**

جاپان څو ورځې وړاندې نوې دفاعي ستراتېژي اعلان کړه چې د پوځي بودیجې د پام وړ زیاتوالی پکې لیدل کېږي. ایا دا په دې معنی ده چې جاپان غواړي تر دویمې نړیوالې جګړې وړاندې وخت په څېر ځواکمن شي؟ د دې اقدام موخه څه ده؟ او ایا دا پرېکړې خپلواکې دي او که د کوم بهرني اړخ، په ځانګړې ډول امریکا تر اغېز لاندې دي؟

**ځواب:**

هو، د جاپان حکومت نوې دفاعي ستراتېژي جوړه او په خپل قانون کې یې ځینې تعدیلات راوستل؛ د جاپان لومړي وزیر، فومیوکشیدا د ۲۰۲۲م کال د ډسمبر په ۱۶مه درې دفاعي سندونه تایید کړل؛ لومړی د جاپان د ملي امنیتي ستراتېژي، دویم ملي دفاعي ستراتېژي او دریم د دفاع جوړولو پروګرام. جاپان له تېرو اوو لسیزو راهیسې او تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته د یوه مات شوي دولت په څېر و، اوس غواړي دا حالت بدل کړي. نو جاپان ډېره هڅه کوي چې یو ځل بیا خپلې پوځي وړتیاوې لوړې کړي. له دغه اقدام څخه د جاپان پر موخو د لا ښه پوهېدو لپاره لاندې ټکي ارزوو:

**لومړی:** د دغې ستراتیژۍ ځینې مادې په لاندې ډول دي:

۱- د دغې نوې ستراتیژۍ له مخې، جاپان د اساسي قانون هغه مادې لغوه اعلان کړې چې د جاپان د اشغال پر مهال د امریکا له لوري پرې تپل شوې وې او له ۱۹۴۷ راهیسې د پلي کېدو وړ وې. د جاپان د اساسي قانون له مخې، دا هېواد د پوځي ځواک له لرلو او له خپلو پولو بهر هر ډول پوځي کړنو څخه بې برخې و. که څه هم، د جاپان نوې ستراتېژي کې په مشروط ډول د «متقابل برید» یادونه شوې او رقابتي جګړه استثنا کوي، خو بیا هم دا لومړی ځل دی چې جاپان له خپلو پولو بهر د پوځي فعالیت محدودیت تر پښو لاندې کوي. د دغې ستراتیژۍ له مخې، د جاپان پوځي بودیجه تر ۲۰۲۷م پورې د ناخالصو کورنیو تولیداتو له یو سلنه څخه ۲ سلنه (د ناټو د غړو هېوادونو پوځي بودیجې ته ورته) ته پورته کېږي؛ دا د دولت د بودیجې ۱۰ سلنه تشکیلوي. (الجزیره نېټ، ۲۰۲۲/۱۲/۱۶). په دې توګه به جاپان په نړۍ کې تر امریکا او چین وروسته درېیمه لویه پوځي بودیجه لري.

۲- دغه ستراتېژي همداراز د «تر ټولو ناوړه سناریو» لپاره د تیاري غوښتنه کوي او دا تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته «تر ټولو سخت او پېچلی امنیتي وضعیت» او له بهرنیو ګواښونو سره مقابله بولي؛ چې د دې لپاره باید لوی شمېر له لویو وچو تېرېدونکي «۵۰۰» امریکایي «ټوماهوک» او ایس ایم-۶ توغوندي وپېري تر څو وکولی شي د هر ډول لرې واټن بریدونو پر وړاندې چمتو وي.

۳- د جاپان اساسي قانون ۹ ماده وايي «د جاپان خلک تل د دولت لپاره د حاکمیت د حق په توګه، د نړیوالو شخړو د حللارې په توګه له جګړې او هر ډول تاوتریخوالي او له ګواښه ډکې کړنې څخه لاس اخلي. د دغې پرېکړې د رېښتیا کېدو لپاره به جاپان هېڅ ځمکني، سمندري، هوایي او نور پوځونه نه لري او دولت ځان ته حق نه ورکوي چې په جګړو کې ښکېل شي». دا ماده لغوه

شوه؛ څو جاپان وکولی شي د جګړې د نوي سیاست پر وړاندې ودرېږي، دا سیاست د پوځي لګښت، پوځي صنعت او پوځ/ربښتیني پوځ جوړولو په ګډون پراخو کورنیو بدلونونو ته اړتیا لري او دا خلکو ته له دویمې نړیوالې جګړې وړاندې د جاپان پراخ پوځي ځواک او زور وریادوي.

۴- له خپلو ګاونډیانو او نړیوالو قدرتونو سره د جاپان د ګډ سوله‌ییز ژوند تګلاره پای ته رسېدونکې ده، د اساسي قانون په دې نویو تعدیلاتو کې جاپان حق لري چې د هر دښمن هیواد پر ضد متقابل برید وکړي. په دې نوې ستراتیژۍ کې له «درېیو شریرو» هیوادونه سره د مقابلې یادونه شوې؛ که څه هم جاپان دا نوم نه ورکوي. په دغو درېیو هېوادونو یا «شریر مثلث» کې لومړی هېواد چین دی چې جاپان یې د ځان لپاره «تر ټولو ستر ستراتېژیک ګواښ» بولي؛ دویم هېواد شمالي کوریا ده چې جاپان یې «د نن ورځې جاپان لپاره خطرناک او قریب الوقوع» ګواښ بولي او په درېیم ځای کې روسیه راځي چې جاپان کلکې نیوکې پرې وکړې او د دغو نیوکو سبب هم دا و چې «روسیه د خپلو ځانګړو امنیتي موخو لپاره له زور څخه کار اخلي؛ لکه د اکراین مسله. بل سبب یې په اسیا او ارام سمندر کې د روسیې پوځي فعالیت او له چین – چې پخپله د جاپان یوه لویه امنیتي اندېښنه ده- سره د دغه هېواد ستراتېژیکه همکاري ده.»(فرانس ۲۴، ۲۰۲۲/۱۲/۱۶).

**دویم:** د دغې ستراتیژۍ پر وړاندې د نړیوالو دریځونو په پام کې نیولو سره؛ لاندې ټکي روښانه کېږي:

۱- چین د دغې ستراتیژۍ کلک مخالفت وکړ او رسماً یې پر وړاندې اعتراض وکړ: [د جاپان نوې ستراتېژۍ تر رسمي اعلان وړاندې لا د بیجینګ له مخالفت سره مخ شوه. بیجینګ تل د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د جاپان د هغو وحشیانه پوځي تمایلاتو په اړه خبرې کوي چې چین یې هم قرباني و. د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند، وانګ وین بین، جمعه وویل: «جاپان پر واقعیتونو سترګې پټوي، له دوو اړخیزو ښو اړیکو او پر ګډ تفاهم له پابندۍ لرې کېږي او د چین اعتبار او شهرت ته زیان رسوي. موږ د جاپان دا کار په کلکه غندو.» (فرانس ۲۴، ۲۰۲۲/۱۲/۱۶)].

۲- شمالي کوریا خبرداری ورکړ چې دا پرېکړه به جاپان منزوي کړي؛ [د شمالي کوریا د بهرنیو چارو وزارت ویاند وویل: «جاپان د یوه خطرناک امنیتي ناورین د رامنځته کولو په حال کې دی او پر خپله نوې امنیتي ستراتیژۍ پر باور سره عملاً پر نورو دولتونو د دفاعي برید کولو ته رسمي بنه ورکوي. په دې کې هېڅ شک نشته چې د جاپان د تېري نوي پلان ته رسمي بنه ورکول د ختیځې اسیا امنیتي چاپېریال په بنسټیزه توګه بدلوي.» نوموړي خبرداری ورکړ چې توکیو به ژر پوه شي چې «دا یوه خطرناکه او ډېره بده ټاکنه وه.» (سکای نیوز عربي، ۲۰۲۲/۱۲/۲۰)].

۳- د امریکا په تړاو، [واشنګټن د یادې ستراتیژۍ هرکلی وکړ. د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت سلاکار، جیک سولیوان وویل: «په دفاعي برخه کې د جاپان د پام وړ بانګونه به د امریکا-جاپان ایتلاف پیاوړی او عصري کړي.» (فرانس ۲۴، ۲۰۲۲/۱۲/۱۶)]؛ د امریکا دفاع وزیر لویډ اسټین هم د جاپان لخوا د خپلې نوې ستراتیژۍ د اسنادو د خپرولو هرکلی وکړ او ټینګار یې وکړ چې: [«د جاپان د ملي دفاعي ستراتېژي او د امریکا د ملي دفاع په ستراتیژۍ کې د مشخصو شوو لومړیتوبونو او لیدلورو تر منځ ورته والی مهم دی.» (الشرق الاوسط، ۲۰۲۲/۱۷/۱۲)] او [ولسمشر بایډن وویل چې «هیواد یې له جاپان سره په دې حساسو شېبو کې ولاړ دی او د هند او ارام سمندرونو په سیمه کې زموږ ایتلاف مهم دی». سپینه ماڼۍ د جاپان نوي دفاعي پلان ته له امریکا سره د پوځي ایتلاف د پیاوړتیا په سترګه ګوري. (الجزیره نټ، ۲۰۲۲/۱۲/۱۶)].

**درېیم:** د جاپان د نوي دفاعي ستراتېژیک پلان له ارزولو وروسته دغه موارد روښانه کېږي:

۱- د جاپان نوې دفاعي ستراتېژي چې د ۲۰۲۲م کال د ډسمبر په ۱۶مه اعلان شوه، که څه هم لویه پېښه وه او د جاپان د څه باندې اوو لسیزو پوځي ځواک ختموي، خو حیرانوونکې نه وه؛ ځکه چې د جاپان دفاع وزارت د ۲۰۲۲م کال د جولای په ۲۲مه، د «سپین کتاب» تر نامه لاندې خپله ستراتېژي خپره کړه او په هغه کې یې هغه دفاعي تګلارې په ګوته کړې چې د نړیوالو ننګونو پر وړاندې باید ځواب ویوونکې وي. نو «سپین کتاب» د هغو ګواښونو پر وړاندې د لرلید په روښانه کولو، چې جاپان ورسره مخ دی، دا وضعیت ختم کړ. جاپان له دغو ګواښونو سره مخ دی؛ د چین مخ پر ودې پوځي ځواک او د تایوان پر وړاندې یې د جګړې خطر؛ د چین او روسیې د پوځي همکارۍ خطر او په اسیا کې د چین، روسیې او شمالي کوریا له لورې د جګړې پیلولو خطر. د جاپان د دفاع وزارت دا «سپین کتاب» چې له یادو ګواښونو سره د جاپان د مخامخ کېدو لپاره د پوځي بودیجې پر لوړالي او په پوځي ټکنالوژۍ کې پر پانګونې او دغه راز د فضا په ګډون څو اړخیز پوځي ځواک جوړولو پر اړتیا ټینګار کوي؛ دا ښيي چې د جاپان هیلې لویې دي او داسې ځای ته رسېدلی چې په دویمه نړیواله جګړه کې د ماتې دورې له ځانه وشنډي، بیا راپورته شي او د چین د سویلي سمندر – چې د چین او جاپان تر لاندې لاندې ټاپوګان پکې دي- په ګډون د ارام سمندر په سیمه کې شته سیالیو سره یو ځای شي.

۲- له دې وړاندې د جاپان پخواني لومړي وزیر، شینزو ابې د چین د نفوذ مخنیوي لپاره پر ارام او هند سمندرونو د ډېر تمرکز لپاره د امریکا او جاپان تر منځ د ګډې ستراتیژۍ پلان له اصلي جوړوونکو څخه و. دا پلان امریکا ومانه او په دې کې په ارام او هند سمندرونو کې د کښتیو د امنیت ټینګولو په موخه په سوداګرۍ، پانګونو او ګډو همکاریو کې د جاپان، امریکا او نورو شریکانو همکاري او د استرالیا او هند راګډول شامل وو. (العربیه، ۲۰۱۷/۱۱/۸).

۳- له همدې امله، د جاپان له نوي ستراتېژۍ او پخوانۍ هغې توپیر څخه په ډاګه کېږي، چې جاپان اوسمهال پوځي ځواک بېرته ستنولو ته ګرځي، خپل تېر هېروي او په اسیا کې د جګړې لپاره په چمتوالي بوخت دی. که څه هم جاپان پخوا یو لوی هېواد و او په ځانګړي ډول یې په اسیا کې ځانګړی ځایګی درلود. د دویمې نړیوالې جګړې په لومړیو کلونو کې پر سیمه واکمن هېواد ګڼل کېده؛ چین، کوریا، سمندري ټاپوګان او په اسیا کې یو شمېر نور هیوادونه یې له مخې لرې کول؛ لکه المان چې اروپايي هېوادونه یې له مخې لرې کول. دواړو هیوادونو وروسته ماتې وخوړه او جاپان پکې د اټومي برید قرباني شو. امریکا د ۱۹۴۵م کال په اګېست کې د جاپان پر هیروشیما او ناګاساکي ښارونو اټومي بمونه وغورځول چې په پایله کې یې تر دوو لکو ډېر کسان ووژل؛ جاپان له دغو بریدونو یوه اونۍ وروسته د ۱۹۴۵م کال د اګېست په ۱۵مه تسلیم شو او د امریکا په مشرۍ متفقینو جاپان اشغال کړ.

۴- د جاپان امپراتورۍ تېر تاریخ ته په کتو، پوځي سیاست ته ستنېدل د جاپانیانو له پراخ هرکلي سره مخ شول. خو د اوږدې مودې لپاره له جنګي سیاست څخه د جاپان لرې پاتې کېدل او په جاپان کې د متفقینو له وتلو وروسته تر نن ورځې پورې د امریکایي پوځي اډو شتون د دې سبب شوی چې د پوځي ځواک بیا ترلاسه کولو لپاره د جاپان انګېزې بشپړې خپلواکې نه وي.

۵- ښايي د امریکایي له چټکو او د پوځ، پوځي ایتلافونو او سیمې د ګواښونو په اړه د جاپان له ستراتیژۍ سره موافقو اظهاراتو سره نور په دې اړه شک نه وي پاتې چې د جاپان پوځي کېده په حقیقت کې هغه د تهداب ډبره ده چې د امریکا په ستراتیژۍ کې د

چین د ګواښونو پر وړاندې ایښودل شوې ده. امریکا خپل پوځیان د چین سمندر ته لېږدولي، د تایوان شاوخوا پاروونکې کړنې کوي او هڅه کوي په دغه سیمه کې اندېښنې زیاتې کړي. امریکا ان ځان د چین پر وړاندې جګړې ته تیاروي؛ د امریکا له ولسمشر، بایډن څخه وپوښتل شول چې که چین پر تایوان برید وکړي، امریکا مستقیماً په جګړه کې ښکېلېږي؟ ده یې په ځواب کې وویل: هو.

۶- همدا رنګه، د پخواني ولسمشر ټرمپ ادارې د شمالي کوریا پر ضد پاروونکې څرګندونې کولې او هڅه یې کوله چې د جاپان پوځیان وهڅوي؛ ده په ۲۰۱۷ کې جاپان ته د «جنګیالی ملت» خطاب وکړ: [... ټرمپ دا څرګندونې د ولسمشر په توګه اسیا ته تر خپل اوږد او مهم لومړي سفر وړاندې وکړې. د ټرمپ په دې سفر کې په ځانګړي ډول جاپان او شمالي کوریا شامله ده او د شمالي کوریا د اټومي ګواښ دوسیه هم پکې راځي. ټرمپ فاکس نیوز ته وویل، «جاپان یو جنګیالی ملت دی او زه چین او هر بل هېواد ته وایم چې که پرېږدئ چې شمالي کوریا همداسې دوام ورکړي، نو په نږدې راتلونکي کې به د جاپان لخوا له لویې ستونزې سره مخ شئ.» (مرصد نیوز- نړیوالې چارې- جمعه- نومبر ۳، ۲۰۱۷)]. ټرمپ په دغو خبرو کې چین ته ګواښ وکړ چې ممکن جاپان پر شمالي کوریا پوځي برید وکړي؛ ته به وایې چې د جاپان په استازیتوب خبرې کوي! که څه هم هغو نویو شرایطو ته په کتو چې د اسیا په ختیځ کې رامنځته شوي، اړتیا لري ځان یو ځل بیا پوځي کړي، خو دا د امریکا یو هر اړخیز پلان هم دی؛ ځکه چې جاپان د امریکا په لیدلوري کې له چین سره د مقابلې لپاره په یوه مرکزي دولت بدل شوی.

**څلورم:** اوس د پوښتنې پر وروستۍ برخه رڼا اچوو؛ چې ایا دغه پرېکړې خپلواکې دي او که له بهرنیو لوریو، په ځانګړي ډول امریکا اغېزمنې شوې؟ که پورته ویل شویو خبرو ته ځیر شو، دا موارد روښانه کېږي:

۱- جاپان د چین پر وړاندې د بریاوو اوږده مخینه لري؛ د امریکا او اروپایي هیوادونو له لوري د جاپاني استعمار تر مخنیوي وړاندې، چین د ډېرې مودې لپاره د جاپان له لوري اشغال شوی و. د چین د خلکو تر اوسه هغه وخت په یاد دی او له جاپان څخه د چین لخوا د غرامت غوښتل او د تاریخ په اوږدو کې د کړو جنایتونو په سبب د جاپان د بښنې غوښتلو موضوع د دې ښکارندوی ده. له بل اړخه، جاپان تر امریکا او چین وروسته درېیم لوی اقتصادي ځواک دی؛ دا له جاپان سره مرسته کوي چې له چین سره په هر اړخیز ډول ښکېل شي. همدا رنګه په صنعت او ټېکنالوژۍ کې د جاپان وړتیاوو ته په کتو، که دغه هېواد خپل پوځي ځواک بیا ترلاسه کړي، په یوازې ځان د چین پر وړاندې درېدلی شي.

۲- امریکا غواړي چې جاپان د خپل ایتلاف په اډانه کې د چین پر وړاندې ودرېږي، داسې چې د جاپان دا سیاست د امریکا د پراخ پلان یوه برخه پاتې شي او په جاپان کې د ځواک کشمکش را ژوندی نه شي او له امریکا سره د دښمنۍ یادونه ور تازه نه کړي، په ځانګړي ډول پر جاپان د امریکا اټومي برید؛ ځکه جاپان له امریکا سره د شخړې اوږد تاریخ لري. دغو ټولو مواردو ته په کتو، امریکا غواړي د امریکا د نوې پوځي ستراتیژۍ پر ټولو جزیاتو واکمن وي تر څو دا ستراتیژي یوازې له چین سره د ښکېلتیا لپاره وي او د امریکا د اټومي برید یاد را تازه نه کړي! د امریکایي ستراتېژۍ له مخې؛ د جاپان پوځي سیاست او پوځي ځواک جوړونه باید یوازې په اسیا کې له چین سره تر ښکېلېدو محدوده وي او په اروپا کې د المان پوځي وړتیاوې د اروپا په ختیځ کې له روسیې د مقابلې لپاره وي.

۳- له دې ټولو سره سره، باید ووایو چې جاپان هم د المان پشان د پوځي ورتیاوو په بیا ترلاسه کولو کې ناوخته کړی. که هم څه دا ملتونه ژوندي او فعال دي؛ خو په سوداګرۍ او پیسو ټولو روږدي شوي او د دې په پایله کې یې د هوساینې او رفاه ژور احساس پیدا کړی، عزت او کرامت یې کمزوری شوی او په رهبرانو کې یې د جګړې او نفوذ همت ورک دی. او جاپان او المان له امریکا او اروپا سره داسې چلند کوي چې له یوه پیرو او تر لاسر لاندې دولت سره توپیر نه لري.

له همدې امله، جاپان او المان څه د پاسه اووه لسیزې د پوځ جوړولو کار وځنداوه تر هغه چې امریکا دې کار ته وهڅول. د یادو هیوادونو خلک د پرمختللي پوځونو جوړولو لپاره د پام وړ کچه انرژي او هوډ لري چې په بیړه په اټومي ځواک هم بدلیدای شي او په نیږدې راتلونکې کې د ځواک او دبدبې خوند تر څکلو وروسته یو ځلې بیا خپله د امریکا لپاره هم ستونزې جوړولی شي او هغه وخت به په خپلو کې سره ښکېل شي. له همدې امله، امریکا د جاپان او المان پوځي سټراټیژي ډېره په ځیر او تر خلاصو سترګو څاري!

**پینځم:** د هغو دولتونو د واقعیت په څارلو چې نن ورځ لوی دولتونه ګڼل کېږي، وینو چې دا دولتونه هېڅ راز ښېګڼې او عدالت ته ارزښت نه ورکوي؛ د هغوی له انده ښېګڼه هغه څه ده چې که د نورو په زیان هم وي، خو د دوی غوښتنې پوره کړي. دوی عدالت دې ته وایي چې نورو ته د زیان رسولو په پایله کې ګټه لاسته راوړي او پر نورو حاکمیت ولري؛ دا که ظلم ښکاره ظلم او نابرابري هم وي توپیر نه ورته کوي. نو د هغوی په ارزښتونو کې ښېګڼه او عدالت نشته. ته به وایې چې تاریخ تکرارېږي؛ کله چې فارس او روم له کوم خیر، ښېګڼې او عدالت پرته پر جهان واک درلود، اسلام له عدالت سره راغی او نړۍ یې رڼا کړه؛ په دې توګه حق راغی او باطل کډه وکړه. د نن ورځې حالت هم د پرون په څېر دی؛ دا حالت تر هغه نه سمېږي، څو هماغه د پخوا پشان د نبوت پر منهج خلافت را نه شي. دې واقعیت ته په کتو اوس د خلافت بیاراتګ یو محسوس واقعیت شوی او ښایي ژر راشي؛ رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمايي:

**«...ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَة عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ» ثُمَّ سَكَتَ.**

**ژباړه:** «وروسته به جبریه حکومتونه وي، دا به تر هغه وخته وي چې د الله سبحانه وتعالی خوښه وي او وروسته به یې الله سبحانه وتعالی په خپله اراده له منځه یوسي. وروسته به د نبوت پر منهج خلافت وي». بیا هغه صلی الله علیه وسلم چوپ شو. [د دې حدیث روایت امام احمد او ابو داود الطیالسي کړی دی].

**(وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ) (یوسف: ۲۱)**

ژباړه: او الله پر خپل کار غالب دی، خو ډېر خلک نه پوهېږي.

**۱۴۴۴هـ.ق کال د جمادي الاول ۳۰مه**

**۲۰۲۲م کال د ډسمبر۲۴مه**